مطبوعاتي خبرپاڼه
ګڼه: ۳۶
نېټه: ۱۳۹۵ کال د وري ۲۸ نېټه

د هيواد په بيلابيلو سيمو کې وسله والو مخالفينو ته درنه مرګ

کابل –افغانستان: په تيرو ۲۴ ساعتو کې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په ګډو تعرضي او تهاجمي عملياتو کې چې د د ترهګرو د له منځه وړلو او خلکو د ځان او مال د ساتلو په موخه د کنړ ننګرهار، کاپيسا، پکتيا، ميدان وردک، غزني، ارزګان، بادغيس، کندهار، فراه، بلخ،جوزجان، فاريياب بغلان، کندز او هلمند ولايتونو په ځينو ولسوالیو کې تر سره شوي چې په ترڅ کې يې ۸۷ تنه وسله وال ترهګر وژل شوي او۹۱ تنه نوريي ټپيان شوي دي.

د غه د افغان دفاعي او امنيتي ځواکونو ګډ عمليات چې د پياده او توپچي قوتونو په مټ ترسره شول د کندز ولايت د دشت ارچي، خان آباد ، امام صاحب او مرکز په اړوندو سيمو کې۳۹ تنه وسله وال ترهګر وژل شوي او ۵۳ تنه نور ټپيان او د بغلان ولايت د ډنډ غوری او شهاب الدين ولسوالیو په اړوندو سيمو کې ۱۳ تنه وسله وال ترهګر وژل شوي او ۱۰ تنه نور ټپيان شوي دي .

په همدې توګه د ملي اردو،ملي پوليسو او ملي امنيت ګډو ځواکونو په جلا جلا عملياتو کې د فراه ولايت د بالابلوک او پشت رود ولسوالیو په اړوندو سيمو کی ۱۴ تنه وسله وال ترهګر وژل شوي او ۱۰ تنه ټپيان او د کنړ ولايت د غازی آباد ولسوالی په اړوند سيمه کې ۵ تنه ترهګر له منځ تللي او ۱۲ تنه نور يې ټپيان شوي دي.

د ملی اردو ځواکونو د يولړ چانيزو عملياتو په ترڅ کې د کاپيسا ولايت د تګاب، د پکتيا ولايت د زرمت، د جوزجان ولايت د آقچې، د ننګرهار ولايت د غنی خيلواو د هلمند ولايت د سنګين ولسوالیو په اړوندو سيموکې ۱۶ تنه ترهګر وژل شوي او ۶ تنه نور يی ټپيان شوي.

ملي اردو د هيواد د دفاعي ځواک په توګه، په ټول قوت سره حاضر دی چې د خلکو د امنيت او هوساينې لپاره هر ډول قربانی ورکړي. په ياد شويو عملياتو کې د ملي اردو ۷ تنه سرتيری شهيدان شوي دي. د ملي دفاع وزارت د لوی خدای «ج» له درباره ځخه شهيدانو ته د فردوس جنت اوپاتې کورن يو ته يې د جميل صبرغوښتنه کوي.

###

د لا زياتو معلوماتو لپاره له لاندې شميرې سره تماس ونيسئ:
ډګروال محمد اسحاق پيمان: 0799765366